HUMAN
RIGHTS
LEAGUE

# ستاسو انتخابونه په سلواکیا کې




تاسو په سلواکیا کې یاستئ.

## د پناهندګۍ درخواست

که تاسو نشئ کولای خپل هیواد ته ستانه شئ ځکه چې ستاسو خوندیتوب یا آزادي په خطر کې دی، نو تاسو په سلواکیا کې د پناهدګۍ ورکولو حق لرئ . **پناهندګي** هغه خلکو لپاره د نړیوال خوندیتوب یو بڼه ده چې د هغوي خوندیتوب او امنیت د نژاد، مذهب، ملیت، سیاسي افکارو او یا یوې ځانګړې ټولنیزې ډلې پورې د اړه درلودلو له وجې ګواښل کیږي. که تاسو د پناهدګۍ دغه شرایط نه لرئ مګر د نورو نابرابریو لکه د (ستاسو په هیواد کې د جګړې او جنګ) له وجې خپل هیواد ته نشی ستنیدلای، په دی صورت کی تاسو ته **موقتی محافظت** یا خوندیتوب درکول کیږي ، موقتی محافظت د نړیوالو محافظتونو یوه بله بڼه ده. که چیرې تاسو یوازې د اقتصادي شرایطو له وجه خپل هیواد خوشې کړی وي، نو تاسو د نړیوال خوندیتوب شرایط نه پوره کوی او ستاسو د پناهندګۍ درخواست به رد شي.

**څنګه؟** تاسو کولای شئ د پولسیو په مرکز کی د پناهندګۍ درخواست ورکړئ، **او هغوي خبر کړئ چې تاسو د نړیوال خوندیتوب غوښتونکي یی.** که چیرې تاسو سره ستاسې د هویت اسناد نه وي، بیا هم کولای شئ چې د خوندیتوب درخواست وکړئ. **کوم ځای کې؟** کله چې سلواک ته ننوځئ، نو **په سرحدي پوله** کې د پناهندګۍ درخواست ورکولې شی. که چیرې له مخکې په سلواکیا کې یاستئ نو کولای شی چې د پناهندګۍ درخواست مو د پولیسو د **قواوو د پناهندګۍ واحد کې کوم چې د هومني سیمه** کې دی ورکړای. که چیرې خپل درخواست د پولسیو په کومې بلې څانګې کې ورکړی نو پولیس به تاسو ته د هومني سیمې ته د انتقال اسناد درکړي، دا سند د ۲۴ ساعتونو لپاره د اعتبار وړ دی. تاسو کولای شی چې د توقیف ځای یا بندي خانې څخه هم د پناهندګۍ درخواست ورکړئ.

د پناهندګۍ په ټولو پړاوونو کې تاسو، د **تاسو په خپل ژبه د ترجمان د درلودلو او د حقوقی مرستندوي درلودلو حق لری.** یو ځلې مو چې د پناهندګۍ درخواست ورکړ، تاسو به د پناهندګۍ مرکز ته واستول شی هلته به ضروري طبی معایناتونه اجرا شی، او یوه مصاحبه به د مهاجرت له دفتر سره ولری، او ددی مصاحبې په جریان کی تاسو کولای شی د خپل د پناهندګۍ د دلایلو د جزیاتو په اړه وغږیږي. د اوسیدلو په ځای کې تاسو ته **خواړه، ابتدائی ضروریات، صحی پاملرنه، حقوق او اجتماعی مرستندوي** درکول کیږي. د مهاجرت دفتر به ستاسو د پناهندګۍ د درخواست په اړه تر ۶ میاشتو پورې پریکړه وکړي. په دی موده کې تاسو **مجبور یی چې په سلواکیا کې پاتې شی.**

**پاملرنه:** په اروپایي اتحادیې کې قواعد موجود دي، دا قواعد مشخص کوي چې کوم هیواد ستاسو د پناهندګۍ د ارزونې او پریکړې کولو مسولیت لري ( دا پروسه د ډبلین په نامه یادیږي). که غواړئ چې په کوم بل اروپایی هیواد کی پناهندګی درخواست ورکړی، **دا شوني ده چې ستاسو د درخواست د ارزونې مسول هیواد سلواکیا اوسی، او تاسو به بیرته دلته راستانه شی.**

د ډبلین پروسې په اړه د نورو معلوماتو لپاره:

د پناهندګۍ د پروسې د نورو معلوماتو لپاره:

HUMAN
RIGHTS
LEAGUE

# د سلواکیا په خاوره کې د اوسېدلو اجازه

که چېری مو پریکړه وکړه چی پناهندګي ورنکړی او پرته د اوسیدلود اجازی یا ویزې څخه په سلواکیا کې اوسیږی، نو تاسو به پولیس ته ولېږل شی، هلته به ستاسو هویت، او ستاسو اصلی هیواد چک شي. له تاسو څخه به د ګوتې نښې او عکس واخیستل شي. **تاسو دا حق لری چی په کومه ژبه چی خبرې کولای شی، ترجمان ولری.**

که تاسو له کوم داسی هیواد څخه راغلی یی، په کوم ځای کی چی ستاسو ژوند او فردي ازادي دتاسو د نژاد، ملیت، مذهب ، سیاسی افکارو او یا یوې ځانګړې ټولنیزې ډلې پورې تړاو له وجې ګواښېدلی دی، او یا داسی ځای، چیری چی تاسو د ظلم، شکنجې ، غیر انساني سلوک او یا سزا سره مخ یاستی، په دی صورتونو کی **داسی محدودیتونه شته کوم چی ستاسو د اخراج مخه نیسي.**

په داسی یو قضیې کی به پولیس تاسو د لاندني عنوان په نوم یو سند درکړي:
“Potvrdenie o zotrvaní štátneho príslušníka tretej krajiny na území Slovenskej republiky”
**د جمهوري سلواکیا په خاوره کې د دریم هیوادونو د اتباعو د اوسیدو اجازه**. ددی سند په درلودو سره تاسو کولای شی چی په سلواکیا کې د هغه محدودیتونو مودې پوری پاتی شی، د کوم محدودیتونو له وجی چی تاسو نه یی اخراج شوی.

د اوسیدو اجازه لیک **په اړه**:

- **د اوسیدو اجازه لیک د استوګنې جواز نه حسابیږي**
- **د اوسیدو اجازه لیک د سلواکیا نه د وتلو امر نه دی**
- **د اوسیدو اجازه لیک تاسو د اروپائي اتحادیې د نورو هیوادونو ته د سفر اجازه نه درکوي مګر که چیرې شرایط یی پوره کړی( مثلآ د اعتبار وړ ویزه ولری)**
- **د اوسېدو اجازه لیک سره نشی کولای کار وکړی او یا سوداګری پر مخ بوځئ.**

**خبرداری:** که چیری په سلواکیا کی د اوسېدلو اجازه ونلري او ستاسو د اخراج پر وړاندې پولیس هیڅ خنډ او محدودیت پیدا نکړي نو په دی حالت کی هغوي ستاسو د **اخراج پریکړه صادروي** او تاسو ته به د سلواکیا هیواد د پرېښودلو لپاره د وخت محدودیت ټاکل کیږي. په داسی حالت کی پولیس دا حق لری چی تاسی توقیف کړي او توقیف ځای ته مو بوځي
**<u>که چیرې مو ځان په توقیف ځای کې ومومه، نو حقوقی مرسته غوښتلي شی:</u>**

**Slovenská humanitná rada**
+ 421 250 200 500
shr@shr.sk

**Centrum právnej pomoci**
+421 650 105 100
info@centrumpravnejpomoci.sk

# د کور ته بیرته ستنیدو مرسته

که په سلواکیا کې په غیر قانوني ډول اوسېږي او پریکړه مو وکړه چی بیرته خپل هیواد ته ستون شی، نو کولای شی **د مهاجرت نړیوال سازمان سره** اړیکه ونیسئ. دا سازمان به تاسو سره د سفر بدیل اسنادو په تنظیمولو کې مرسته وکړي او ستاسو د خوندي او با عزته کور ته ستنیدو تنظیمات وکړي.

+421 850 211 262
RETURNHOME@IOM.INT
www.avr.iom.sk

په سفر کې محتاط اوسئ. درغلګر کیدای شی هڅه وکړي چی ستاسو د ستونزمن حالت څخه ګټه پورته کړي. پام کوی چی د انسانی قاچاقو قرباني نشی. که مرستې ته اړتیا لری پولیسو ته زنګ ووهی: ۱۵۸ او یا د قاچاقو د قربانیانو د ملی مرستندویی اړیکه شی *+421 800 800 818*

## که حقوقی مرستې ته اړتیا لری، د بشری حقونو لیګ سره په اړیکه شی:
## +421 918 366 968 (WhatsApp)
## hrl@hrl.sk